UDI

## د هغو افغانانو لپاره له مرستي سره بیرته ستنېدنه، چي عمرونه یي له اتلسو کلونو څخه تیټ (زیر سن) او یوازې دي (پرته له مور او پلاره راغلي دي)  او د استوګني اجازه یي محدوده ده

د کډوالو د چارو اداره (UDI) هغو افغان پناه غوښتوونکو ته، چي عمرونه یي له اتلسو کلونو څخه تیټ (زیر سن دي) او یوازې دي او دلته یي اجازه تر ۱۸ کلنی پورې ده، د بیرته ستنېدني د مرستي وړاندیز کوي.

**د کډوالو د چارو اداره (UDI) هغو کسانو ته افغانستان ته په منظمه توګه بیرته ستنېدنه برابروي، چي د ۱۸ کلنی له پوره کېدلو څخه مخکي د بیرته ستنېدني د مرستي لپاره غوښتنلیک وړاندې کړي.**

د دي مانا دا ده، چي د کډوالو د چارو اداره (UDI)، د پولیسو د کډوالو د چارو څانګه (PU) او په کابل کي زمونږ همکاران، د شاجان او همکارانو د وکیلانو دفتر ( Shajjan & Associates)، به له تاسو سره کله چي خپل هېواد افغانستان ته ولاړ شئ، مرسته وکړي.

که تاسو له مرستي سره بیرته ستنېدنه غوره کړئ او د ۱۸ کلن کېدلو د پوره کېدلو له ورځي څخه مخکي غوښتنلیک وړاندې کړئ، سفر ته  څان چمتو کولای شئ، له تاسو سره د سفر په پلانولو کي مرسته کېږي او همداراز په افغانستان کي د ژوند د پیل لپاره مالي مرسته او ملاتړ تر لاسه  کولای شئ. د کډوالو د چارو اداره (UDI) کولای شي له تاسو سره د شاجان او همکارانو د دفتر له لارې مرسته وکړي، تر څو په افغانستان کي له خپلي کورنۍ سره اړیکه ونیسئ.

**تاسو  د ۱۸ کلن کېدلو د ورځي پورې د بیرته ستنېدني د مرستي لپاره غوښتنلیک وړاندې کولای شئ.**

**مونږ هیله لرو چي تاسو د بیرته ستنېدني د مرستي لپاره له ۱۸ کلن کېدو څخه د امکان تر حده مخکي غوښتنلیک وړاند کړئ.**

## غوښتنلیک څنګه وړاندې کولای شئ؟

- تاسو یوه فورمه ډکوئ او نیغ په نیغه د کډوالو د چارو اداري (UDI) ته غوښتنلیک وړاندې کوئ.
- د غوښتنلیک فورمه په لاندې پته موندلای شئ:
  https://www.udi.no/retur/sok-om-assistert-retur/assistert-retur-til-afghanistan/#link-949
- غوښتنلیک دې برېښنالیک ته واستوئ: trass@udi.no
- که چیرې د غوښتنلیک وړاندې کولو لپاره مرستي ته اړتیا لرئ، له خپل سرپرست او یا کمپ سره اړیکه ونیسئ.

**Utlendingsdirektoratet**
Norwegian Directorate
of Immigration

Hausmanns gate 21
Pb. 8108 Dep. NO-0032 Oslo
+47 23 35 15 00

udi@udi.no, www.udi.no
Bankkontonummer 7694 05 10712
Organisasjonsnummer 974760746

UDI

- که چیرې غواړئ چې له ۱۸ کېدو مخکې بیرته ستون شئ او یا غواړئ چې د کورنۍ غړي مو په کابل کې ملاقات ته راشي، په افغانستان کې باید خپلې کورنۍ ته د اړیکې نیولو مالومات ورکړئ.
- د شاجان او همکارانو د وکیلانو دفتر ستاسو له کورنۍ سره اړیکه نیسي او ډاډمنوي مو چې کورنۍ به ستاسو د رسېدو پر مهال په کابل کې شتون ولري.
- د پولیسو د کډوالو د چارو څانګې (PU) کار کوونکي د سفر چارې سمبالوي او له تاسو سره افغانستان ته په سفر کې ملتیا کوي.
- د کابل هوايي ډګر ته له رسیدو سره سم به د ناروې د سفارت یو استازی ستاسو هر کلی وکړي. سفارت د شاجان او همکارانو دفتر ته ستاسو د بیولو مسؤلیت پر غاړه لري. یاد دفتر تاسو خپلې کورنۍ ته رسوي.
- د کډوالو د چارو اداره (UDI) کابل ته ستاسو د مور او پلار یا د کورنۍ د هغو غړیو د سفر او په کابل کې د پاتې کېدو لګښت ورکوي، چې ستاسو لیدلو ته راځي.
- مالي مرسته (د بیا مېشتېدلو مرسته) د یادو وکیلانو د دفتر له خوا تاسو او ستاسو مور او پلار یا کورنۍ ته ورکول کېږي.

**مالي مرسته ( د بیا مېشتېدلو مالي مرسته)**

- تاسو ته د بیا مېشتېدلو لپاره ۴۲۰۰۰ (دوه څلوېښت زره) کرونه درکول کېږي. دا مرسته نغده ده او د ۱۲ میاشتو په موده کې څلور ځلې ورکول کېږي.

- که چیرې تاسو له ۱۸ کلن کېدو مخکې افغانستان ته ستون شئ او مور او پلار یا کورنۍ مو لیدلو ته کابل ته راشي او د بیرته ستنېدنې په هکله همکاري وکړي، ستاسو مور او پلار یا کورنۍ ته د ۴۲۰۰۰ کرونو سربیره لس زره (۱۰۰۰۰) کرونه نور هم ورکول کېږي.

مونږ هیله لرو چې تاسو د دې مرستې لپاره له ۱۸ کلن کېدو مخکې غوښتنلیک وړاندې کړئ.

که چیرې تاسو له ۱۸ کلن کېدو وروسته غوښتنلیک وړاندې کړئ، په مالي مرسته کې د پام وړ کموالی راځي.

که کومه پوښتنه لرئ، کولای شئ د کډوالو د چارو له اداري (UDI) سره په ۴۰۴۳۶۱۹۶ تلیفوني شمېره اړیکه ونیسئ.

په درناوي
د کډوالو د چارو اداره (UDI)

**Utlendingsdirektoratet**
Norwegian Directorate
of Immigration

Hausmanns gate 21
Pb. 8108 Dep. NO-0032 Oslo
+47 23 35 15 00

udi@udi.no, www.udi.no
Bankkontonummer 7694 05 10712
Organisasjonsnummer 974760746